لیکوال: اخترکوچی

نیټه ۰۸-۰۱-۲۰۱۱

# د بل و کورته د خپلو« میلمنو» لیږدول پنجابی چلونه

پاکستان سره له دی چی یو ډیرلوی هیواد دی او ډیربنه ښایسته، ښایسته ځایونه لری، مګر ولی خپل د قدروړ میلمانه دالقاعدی او طالبانومشران ( شیری غواوی) د خپلو ښایسته ځایوته لکه اسلام آباد، لاهور، کراچی او نورو ځایو کښی نه ساتی چی هغوی د نورو بیچاره پښتنو د آزادو قبایلو وکوروته او یا د افغانستان سره په نژدی پلوکی دغرونو په سمچوکښی ځای پرځای کړیدی؟


پښتانه بیله شکه چی په نړی کی په میلمه پالنی ښه شهرت لری، مګر حقیقت دا دی چه دا ناغوښتل شوی «میلمانه» (اعرابوالقاعده او دهغوی لیونی طالبان) پښتنوندی راغوښتی، بلکه دا کار د پنجابی آی اس آی واکدارانو پواسطه د پښتنو دځپلواو د نړیوالو په سترګوکښی د هغوی د بد نامه کولو لپاره وراستول شویدی.

پاکستان سره لدی د خپل پیدایښت(۱۹۴۷) څخه را پدی خوا په توګه د ۱۹۴۸ کال د پښتنو دآزادو قبایلو سیمی پخپل ځان پوری تړلی ارضی تمامیت اعلان کړیدی، مګردعمل په ډګرکښی، پدی ۶۳ کلوعمر کښی هیڅ داسی یوکار یی په هغو سیمو کښی دخلکو په ژوندانه کښی سرته رسولی نه دی چه د هغو وګړو حد اقل لومړنی حقوقونه پرځای شوی وی. پاکستان د خپلونورو وګړو لپاره بیل اساسی قانون او پارالمان لری، مګرد پښتنو د آزاد قبایلی سیمو د پاره د استعمار دوختونو هغه (اف سی آر) قانون ډوله نیمګړی مقرارات دی چه تراوسه پوری پنجابی جرنیلان یی په زوره چلوی. د پښتنو د آزاد قبایلو په سیمو کی، قبایلی پښتانه په ټاکنو کښی د رای ورکولو حق نلری او د پاکستان په ملی اسامبله کښی آزاد قبایل خپل استازی هم نلری. کارخانی، سړکونه، مکتبونه، روغتونونه او داسی نور د انسان د ژوند انه د آسانتیاو لپاره څه چی د پاکستانو په نورو صوبیی سیمو کښی شته د پښتنو په آزادو قبایل په سیمو کښی وجود نلری. پاکستانی پنجابی واکداران د شروع څخه تراوسه پوری نه دا چه د پښتنو د آزادی څخه په ډول ډول چلونومخنیوی کړیدی بلکی هغوی یی د جهل او ناپوهی په تورو تیارو کښی د دنیا څخه بیخبره ساتلی دی.

د پاکستان پنجابی واکداران دپښتنو د قبایلی د سیمو اوسیدونکی یی نه یواځی دا چه د پاکستان د اتباعو په سترګو برابر نه ګوری بلکی د دوی سره دیوی مستعمره په شان ډیرظالمانه او وحشیانه چلند کوی. پنجابی واکداران د پښتنو د آزادو قبایلو د سیمود قامونو ترمنځ د خپل منځی جګړو او ښخړو کښی لوی لاس لری او تل پښتانه په خپل منځوکښی سره جنګ وی، او نه پریږدی چی د پښتنو د قامونو تر منځ یوالی راشی. که چیری قبایلی پښتانه مشران د خپلو حقونوغوښتنه کوی نوپنجابی واکداران د هغو په وژلو په راز راز پلمو لاس پوری کوی. پدی ورستیو لسو کلونو کښی تراوسه پوری د یو زرو دوه سوه (۱۲۰۰) تنه څخه زیات بیګناه مخورقبایلی پښتانه مشران وژل شوی، او د هغو په لسهاو کورنونه ته یی اورو نه ورراچول شوی او ویجاړ شویدی. د پاکستان حکومت د دوی د شهیدانو قاتلان یی هم نه نیسی او پاکستانی محاکم هم هیچا ته ددی بیګناه خلکو د وژلو په هکله سزا نده ورکړی.

په ډیرافسوس باید دا هم ووایو چی نړیوال ټولنوهم د پښتنو د دی جنیساید په هکله چی په خاص توګه د پښتنو په آزادو قبایلی سیمو کښی د پنجابی آی اس آی او د هغو د القاعدی او طالبانو «میلمنو» له لاسه دوام لری تراوسه پوری کوم کلک غبرګون ندی ښودلی. اوس دا شرارتی نه غوښتل شوی «میلمانه» د ټولو لراو بر پښتنو د ژوندون حالات یی وهغو ځای ته رسولی دی چی د کورونو خاوندان ودی اړه شویدی چه د خپل د پلرونو او نیکونو پنځه زره کلن ټاټوبی دی ټول ورسره ژوند پریږدی او په خپل وطن کښی د ننه او یا په باندنی ملکونو کښی سرګردانه وګرځی.

زردی ومری خو یو دی نه مری، د حق د لاری ستر پښتون مبارز پاک شهید جاجی خیال اکبراپریدیخدایی خدمتګار مشرد ۲۰۰۹ کال د جون د ماشتی په سفرکښی.



بیځایه به نه وی چی دلته د نومنی په ډول د شهید حاجی خیال اکبراپریدی صاحب د خدایی خدمتګار یوسترمخکښ، مسلمان مشرڅخه پدرناوی یادونه وکړوچه د ۲۰۰۹ کال د جولای په پنځلسمه نیټه د خپل کورپه انګړکښی دخپل کورنی د غړواو سپینسری میرمن په مخ کښی د دښمن په ناپاکو لاسو فقط څو ورځی وروسته د سفر د راسنیدو څخه د آدم خیلو په دره کی وژل شویدی. خدای (ج) دی شهید خیال اکبر وبخښی او قاتلان ته یی سزا ورکړی. د لراو برو ټولو پښتنو ومخ ته یواځی د خپلود سیموڅخه دجګړه د اور د لری کولو لپاره یوه معقوله لاره پرانیستی ده هغه داچی دوی د خپلو د یوالی په کلک ساتلو سره په ګډه د القاعده او د پنجابی آي اس آی لیونی طبالبان دی دخپلو کلو او بانډو څخه وشړی. پای



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ